مګر افسوس چې ګورو دښمن دجبهې له شاڅومره وړاندې راغلي ، ئن دښمن برياليي شوي چې خپل دزړه خبره ديوه داسې چاله خولې راوباسي چې دشيخ اومولوي نوم هم وريپوري دي ، قرآن اوسنت ته ددعوت خبري هم کوي . هغه قرآن اوسنت چې ټول " بشريت " ته دوحدت پيغام ورکوي ، ئن دښمن دهغه چا له ستونې په ۲۸ برخوزموږدګران وطن دويش بدشګومه چيغه پورته کوي چې ظاهرا ئي دجهاداومجاهد بيرغ هم په لاس

کې نيولې دي ، هغه بيرغ چې هره ربانې ذمسلمان په زړه کې دټول "امت " اوټولي اسلامي نړۍ دوحدت شوق اواحساس ځپاندوي .

موږنه پوهيږو چې بناغلي شيخ صاحب به څومره دخپل ذې شوم نيت خطرناکتوب ته متوجه وي، اوهغه په څومره پوهيږي چې له اسلام اوافغان جهادسره په يوه نه بښل کيدونکې خيانت دلاس پورې کولو ليونتوب کوي اوڅومره ئي دې ته پام دي چې دافغان مومن ملت دمومنانه ارادې اوغوښتنې دېرتاوره توهين اوبدسپکاوي ته ئي ملاترلي ده .

هغه هېواد چې انګريزسره له دې چې " ويش " ئي دامپراطوري اوسلطې فلسفه اوبنست ؤ تجزيه نکراي شواي ، روسان چې دملتونو اوهېوادونو دژوندي تيرولوعملي تجربه لري خو په دوو برخوئي دافغانستان دويش تکل ونکراي شو. مګر عجيبه ده چې د" پيچ دري " " ملاصاحب ئي په ۲۸ برخوويش جرئت کوي آياهغه له يوه خطرناک اوسره دلوبې شوق نه کوي ؟ مطلقا ځواب مثبت دي هغه بايد پوه وي چې دې اورونو چې څوک سوځولي، بواځې ئي تورکاليوئوته پاتې دي هغه هم دتاريخ په تور موزيم کې .

له قرآن اوسنت سره دبې باکې ناوړه مظاهري ...

ډېروخت " الفاظ " او" مفاهم " سخت مظلوم واقع کيږي ، ډېرمقدس " اصطلاحات " اودرنې " کلمې " ددېرمهيبکو اهدافو اوناسپېڅلو داعيوقربانې کيږي ، زموږ ددې خبرې يوه غونه ده،په کونړکې ديوې ولې له خوا د" جماعة الدعوة الي القرآن والسنته " دالفاظو اونوم استعمال . موږدهغې جفا دحددټاکلو قضاوت خپلوګرانو لوستونکو ته پريږدو، چې داوله ئي دقرآن عظيم الشان اوسنت رسول الله له نومونو او هغوي ته ددعوت له متعالي مفهوم سره کوي، دلته بواځې غواړو ددې ولي د" ساره اوادوډو" په باب لندمعلومات ورکړو .

"جماعة الدعوة ..." دملا جميل الرحمن وله ده ، دده اصلي نوم حسين دي دوهم نوم ئي څينې عربي دوستانو ورته ديکته کړي دي .

داوله عنوانوي دشرک په ضد مبارزه اوقرآن اوسنت ته بلنه ، مګر دامبارزه اوبلنه ټوله پدې کې خلاصه کوي چې ، قبرونه له خاوروسره سم شي ، زيارتونه رنګ اواوارکړاي شي، په لمانځه کې آمين په جهروويل شي . لاسونه په سينه کېښودل شي، پښې داوږويه اندازه ارتې ونيول شي، دخداي (ج) لپاره دمکان په موجوديت اعتراف وشي، اودمذهب پيروي شرک وګڼلې شي .

ملاجميل صاحب پدې نظردي چې افغانستان کې جهادنشته ، له روسانو سره چې کومه جګړه شوي اويا اوس دهغوي له مزدورانو سره روانه ده ، دانه جهادوو نه دي . څکه جهاد دموحدومومنانو اوکفاروترمنځ وي په داسې حال کې چې په افغانستان کې يو لورې مشرکان دي اوبل لورې ملحدين ، ترڅوچې دافغانستان خلک له شرکه نه وي اوښتي اوموحدين شوي نه وي ترهغه وخته بايد ددې "جګړې " مرسته ونشي ، اوزموږعربي " موحدو" ملګرو نه پکارده چې د" افغان جهاد " په نامه څه شي ته په هيڅ اهميت قايل نشي اوپدې نامه له هيچاسره څه مرسته ونکړي په افغانستان کي بواځېنې جهاد دشرک په ضد زموږ مبارزه ده . ټولي مرستې " الجماعة ..." ته ورکړي چې وکړاي شي په برياليي ډول ! له افغانستان نه دشرک کمبله ورټوله کړي او" مشرک افغانستان !" په " موحد افغانستان " واړوي ..."

پورتني خبري دشيخ صاحب جميل الرحمن او دهغه دولې دمفکورې، طرزفکر، تګلارې اوماهيت کلي چوکاټ جوړوي، پدې کې يوټکي هم کمه اوزياته نشته . په عربي هېوادوکې دملاجميل دويناوو ګڼ شمير کسټونه او د" الجهاد " مجلې کلکسيونونه،زموږ دپورتني خبرې ژوندي شاهددي . اوکه بناغلي ملاصاحب له کاليوسره دافغانانو په سترګوکې دورتنوتوجرئت ونکړي، بايد په هيڅ توګه ئي دانکاريه هاندلاس پورې نکړي .

ملاصاحب په اوسنيوشرايطوکې دقبرونو آوارول اودزيارتونو رنګول دخپلي مبارزي مهم هدف ګڼي

يوه ورځ خپلوپلويانو ته امرکوي چې ولاړشي په " ديوګل " کي د" امل مزيدبابا" اويه سرکانو کي د"مياصاحب" اودنرنګ زيارتونه وسوځوي ، کله ئي چې افراد " فاتح !" راستنيږي او ده ته دماموريت دبرياليي انجام داوورکوي ملاصاحب د" سوبيالي سالار " په ژست خپلوکسانوته د" شاباس " سرخوځوي اووائي چې خوش يم چې ئن مې دمبارزې يولوي هدف ترسره شوي دي .

پداسې حال کي چې دکونړ دغيرتمنو اواسلام پالوخلکو په ګډون ټول افغان ولس دې ته په تمه دي چې څه وخت به ئي مجاهدوروته دروسانو دمزدورحکومت له شره په ژغورولو برياليي کيږي ، اوکله به ئي په هېوادکې دجګړې لمبې سړېږي ، اودمجاهدينو دحکومت ترپيرغ لاندې به داستقلال، آزادۍ ، شرافت اوعدالت ژوند پيلوي ،خوملاصاحب خپل " ارمان " دزيارتونو سوځول بولي .

دکونړ داسمانڅوکو غرو سرونه اوددې داسلام اومسلمانانو ددښمنانو دهيبتناک عسکري ماشين دډري ورې کېدو تاريخي شاهدي دي په ځاي ، ځاي کې ددښمن دماتې دومره آثارپاتې شوي چې دټولو هغوقومونو اوځواکونو لپاره په داسلام دحاکميت اوخپلې خپلواکې دګټلو لپاره دمقاومت په لارټګ په مخ کې لري، دروحيې، عزم اوهمت ورکولو دپادګار موزيم نقش ترسره کوي ددې وسايلو په ليدوسرې په " زور " او"طاقت " باندې د" ايمان " او" حقانيت " دفتحې ننداره کوي اوداواقعيت لمسوي چې دمسلمان دارادې په وړاندې پولاد له ويلې کېدو اوماتيدوپرته بل سرنوشت نشي خپلولاي .

دادټول امت زامنو ته ښيي چې که قيام اوحرکت وکړي او دآرمان له محبوبې سره دوصال پوخ تصميم ولري دزماني هر" زور " او" زوروور" به راپرڅوي او ورورستې سوبه " به وي ستادمبارزې نوم .

مګر استعمار دومره احمق ندي چې داسې يو لوي خطردې درک نکړاي شي . هغه دفاتح مجاهد " پل " رنګوي . دلارې نښې ئي ورانوي ، او د" زوروور" دمات شوي لښکر ټوټې له مخې لرې کوي اوداسلام اوآزادۍ دسپاهي په لاس د" کبرجن " ريچې ريچې شوي هنوکې دچاليدوته نه پرېږدي . څکه هغه څه چې استعمار دهغه په وسيله په نوروحکومت کوي " زور" دي نوځودېه هم د" زور " داسې کيدو آثارله منځه وړي .

ملاجميل الرحمن داستعمار ددې هيلې ديوره کيدولپاره په ټول قوت سره هڅه کوي داآثاريه هره بڼه اوهره بيه چې ممکن وي له منځه يوسي ، دمسلمان زړه خوپاپه دې ټوکرټوکر شي چې بناغلي ملاصاحب خپل دې عمل ته د" توحيد " رنګه ورکوي اووائي چې کيداي شي په آينده کې خلک ددې آثارو عبادت پيل کړي .

موږدبناغلي ملاصاحب دې بې واکي جرئت اونامردانه بې باکي ته حيران يوچې څه ورڅانته دهغه قوم په وړاندې ددومره ګستاخانه قضاوت حق ورکوي چې دخپلې توحيدي عقيدې اودخپل الله (ج) دکلمې دلوړولو لپاره ئي ځان دخپل ئن په وينو ولمباوه ، ټول هېوادئي په هديرويدل شو کورونه ئي په کنډوالو بدل شول داځوارلس کاله ئي شپه او ورځ له اسلام سره دعشق په دوولو ټوبو ؛ بارونواوورونو سره لوبې وکړي .

که دبناغلي ملاصاحب ضميراووجدان په بشپړ توګه مسخ شوي نه وي چې البته دده دنظرياتو اوکړو وړو په مطالعه کولو ئي امکان دحتميت حدته رسيږي . بايد پدې خبره لږ فکروکړي چې څه ورداداځان حق ګڼي چې هغه " قوم " په مشرک اوبې بصيرتي محکوم کړي چې دمقاومت اومبارزې ادامې ته ئي ترټولو هغو سختيو ترجيح ورکړه چې څوک ورته تعريف نشي پيداکولاي .

پداسې حال کې چې جناب ملاصاحب دموټرو، ريالواو محدود کش اوپش لپاره خپل ملهب ، لار، هدف، استقلال اودجهاد اوافغان مسلمان ملت وقاراوحيثيت دمعاملې اوسوداباازارته وړاندې کړي دي . اوعملا دپرديو په لاس کي دخپل ملت اووطن پرخلاف لوبيږي ، دجهادمخه نيسي، په ملت کې دتفرقې اوانتشار دايجاد هلې ځلي کوي اودافغانستان دتماميت اوملي وحدت پرضد داسلام ددښمنانو په نقشو کې ديې واکه آلې په توګه کارکوي .

کاشکې هغه دومره خپل احساس اوضمير نه وي بايللي چې پدې پوښتنه يوڅل بياغورووکړاي شي چې آيا هغه ملت مشرک دي چې دخپل ژوندهرڅه ئي تردې قربان کړل چې له الله (ج) نه پرته به دبل چا واکمنې نه مني اوکه هغه ملاصاحب چې د" ريالو" لپارځلي دخپل شخصيت په ګډون هرڅه نغد داستعماربازارته په دواړو لاسوتقديم کړل .

دکونړ مجاهدو اوغيرتمنو خلکو ته دجهاددامارت پيغام

دکونړدسردرو مجاهدواوغيرتمنو خلکو

ا ئاسې شاهدياست چې کله د۱۳۶۷ دتلي په ۱۷ مه زموږولايت دلوي خداي په مرسته اوزموږدمومنومجاهدينو په سربلندنه په بشپړه توګه له کفارو پاک شو، ستاسې قوماندانانو ورونو ددې لپاره چې په منظمه توګه دسيمې چارې سنبال کړي، معقوله اسلامي اداره رامنځ ته کړي، دهېواددنورو سيموپه آزادولوکې خپل فعال نقش ترسره کړي ، او ددې منطق اوذهنيت عملي مقابله وکړي چې ګويا مجاهدين بواځې دټوپک اوجګړې خلک دي اودحکومت اواداري کفايت نلري ،د" متحدې اسلامي شورې " په نوم ګډه اداره جوړه کړه ، پدې اداره کې دملا جميل الرحمن دولي په ګډون ټول جهادي قوتونه شامل وو .

له دې سره جوخت محترم مولوي غلام رباني دشورې درايوپه اکثريت دکونړوالي وټاکل شو اوټولو قوماندانانو دهغه داطاعت تعهدوکړ .

پدې توګه ستاسې مجاهدو ورونو غوښتل چې لکه څنګه چې زموږشهيدپال ولايت لله الحمد دوسلوال جهاد په پيل اوپرمختګ کې دمخکښ نقش درلود، اوټول هېوادمجاهدوروڼه ئي په حماسواوعظمتونو وياړي ، همداسې ديوې اسلامي اداري په جوړولو کې هم دسرغندوي اوڅونې رول ترسره کړي .

خوخواشيني چې دملاجميل الرحمن ولي چې نه دکونړ دڅوريدلو مسلمانانو دامن او سوکالۍ ، افتخاراتو او وقاردزيانمنيدوپروالري اونه ورسره دجهاد دعظمت اوحيثيت دتاواني کيدو باک شته ان له هغه پيله په اخلال لاس پورې کړ. کله چې دکونړ دامنيتي چارو په برخه کې د"متحدې اسلامي شورې " لومړې غونډه جوړه شوه نوموړي ولې پکې ګډون ونکړ، اوورپسې ئي ديوې بلې جلا اداري دجوړولو هڅې علنې کړې اومولوي احسان الله ئي دکونړ والي وټاکه .

پدې توګه ئي له اسلام ، جهاد اودکونړ له مسلمانو خلکو سره لويه جفا اوخيانت وکړ . دوحدت اوګډې اداري دجوړېدو پروسه ئي ويجاړه کړه . اوډکورنې شخړې دپيلولو دفتنې لومړي ګام ئي واخيست دملاجميل ولې مجهول الهويته افراد په چاروګومارل ، داسې چې ټول کارئي قدم په قدم ئي دخلکو کړول اوځورول و " اسلامي متحدې شورې " دادرداوستونزه بنه محسوسوله چې زموږمسلمانانوورونو چې دهرډول ربړونو دګاللو اوخپلووينو دبهولو په بيه کونړ له کفارو پاک کړ .

انتظارخوئي داوچې بايد نورددې آرام مصئون اوسوکاله شي ، دمجاهدينو اداري به ئي په بشپړه توګه په خدمت کې وي -دالخه وشول چې يوه وله چې په ظاهره ځانونه مجاهدين هم بولي له دوي سره دمجرمانو په دود چال چلند کوي.

مګر شورې ددې ترڅه واقعيت له ليدوسره سره دجهاد دلويو مصلحتونو لپاره صبراوزغم وکړ اوهيڅ ډول عکس العمل ئي ونه ښود .

شورې ددې په ځاي چې دملاجميل له ولګې سره ځان اخته کړي دچارو په ښه کولو بوخته وه ، اودخپل کاردلاښه پرمختګ لپاره ئې دمتناسبې نمايندګي پربنسټ دانتخاباتو پرطرحه کارپيل کړ .

پدې وخت کې دملا جميل وله له يوې خوا داهلي اوباکفايته کدر دنشتوالي له امله عملا دچاروپه سنبالولوکې پاتې راغله ، له بل لورې دولس عکس العمل اودهنيت وداړکړه اوپدې برسيره د" متحدې شورې " مشتواومعقولو روشونو دتجربدله ګواښ سره مخامخ کړه ، له دې امله ئي په خپله تګلاره کې ترميمت اوتبديلي وښودله

اودانتخاباتويه جريان کې ئي دګډون غوښتنه وکړه شورې ئي غوښتنه ومنله اودانتخاباتو په کميسيون کې چې درايو په اکثريت ئي فضيلتمات مولوي صاحب غلام رباني مشرټاکل شوي وټريټوب ورکړل شو کميسيون عملا په انتخاباتو لاس پورې کړ .

د ۱۳۶۸ کال په حوت کې په ۱۲ ورځوکې دننه انتخابات چې ۱۲ ولوپکې برخه درلوده بشپړشول .

دانتخاباتو دېشپړېدوترڅنګه دملاجميل ولې دخپلوبادارانو په اشاره دزياتي اندازې ناروابيسو په لګولو لاس پورې کړ ، ددې ترڅنګ ئي په بيلابيل ډول ماجراوې ايجاد کړې ترڅو له يوې خوا وخت ضايع کړي ، اوله بلې خواولس اونور جهادي لورې ستومانه اوبې حوصلي کړي .

خودشورې اکثريت غوږداسلام او خپلومسلمانو خلکو دسرنوشت مصلحت ترهرڅه دروند ګڼه له ټولو ناخوالو سره سره ئي په پوره شرافت او اخلاص دانتخاباتو دکولو چارې پرمخ بېولې .

بالاخره التخابات دمولوي صاحب غلام رباني ترمشري ترسره شول .

ټولې انتخاباتي حوزې (۱۲٤) وې ، دولس جهادي ولې کانديدې وې او ۱٤۲۷۳۱ کسانو په رايه ورکولو کې .

اصطلاحات عرفاني درشعر وادب دري
(شراب ، شمع ، شاهد وخرابات

اصطلاحات عرفاني درادبّ دري، اگرازجانبي باعث پرباري وارتقاي آن گرديده ، ازطرف ديگر سبب شكوك وشبهات عوام الناس شده حتي طبقه متوسط دانشوران را نيز ازآن متنفر وروگردان نموده،زيرا بعضي ازاصطلاحات مذكورمانند مفاهيم (شراب ، شمع ، شاهد ، خرابات وغيره) كه ظاهراً معاني خلاف ديانت وتقوي رادربردارد باعث شده تا ذهنيت هارا دچارشكوك وشبهات نمايد، علل نفوذ مطالب مذكور درعرفان اسلامي خيلي هاوسيع وگسترده بوده كه تحليل وبررسي جامع وهمه جانبهٔ آن درين برنامه ناممكن ميباشد، ولي ميتوان از علل اساسي كه باعث اين كارشده است به صورت مختصر يادآوري نمود .

اگربتاريخ ادبيات دري نظراندازي نمايم، ميبينيم كه آثاردوره هاي قبل ازاسلام ، اكثراً نابودگرديده وادبيات دري بعدازطلوع آفتاب پرانواراسلام عزيز درپهلوي ابعاد مختلف فرهنگ مانشوونمانموده وتا امروز نشيب وفرازهاي زيادي را سپري كرده تااين همه گنجينه هاي پربار ومثمر راتقديم جوامع بشري نموده است . دردوره هاي اول (خراساني) توجهٔ نظامها واهل دولت به جانب ادب دري خصوصا نظم جلب شده وبگانه عامل پخش نظريات ونشرفعاليت هاي ايشان گرديد .

سلاطين وشاهان دربزرگداشت وتربيه ادبا وشعرابحدي توجه نمودند كه حتي خود نيزبه گفتن شعرونظم افتخارمي كردند،خصوصاً درزمان فتوحات افتخار آفرين سلطان غزنه درجهاد عليه سومنات وفتح آن پيشرفت وارتقاي ادبيا ت بحدي بالاگرفت كه

استاد بيرنگ

به دربارسلطان محمود غزنوي (رح) چهارصد استاد سخنوردرمجالس عاليه آن حضورمي داشتند . درين دوره طلائي بحدي آثارقيمتدار ادبي انتشار يافت كه تاحال درجهان نظيرآن ديده نه شده است،ولي همينكه روحيهٔ جهادي رويه زوال گذاشت شعروادب مانند دوره اول در خدمت دربار ودرباريان قرارگرفت ، امارو حيه جهادي عرفا بالاخره راه خودرابجانب حق وحقيقت كشائيد .

مشهور است كه حضرت ابوالمجد مجدود بن آدم سنائي (رح) بابرخورد عارف مجذوب منقلب الاحوال گرديده اهل دربارا براي هميش ترك گفت وراه عرفان را اختيارنمود وبه اندك زماني بعدازسير آفاق وانفس ، مكتب عرفان را درزبان دري به سطح عالي به شيوه موجز پايه گذاري نمود وبعدازايشان حضرات عطار (رح) مولوي بلخي (رح)، حضرت جامي (رح) وبيدل (رح) حافظ (رح) وغيره اين مكتب رابه كمال وعروجي رسانيدند . هريك ايشان سبك هاي خاص درادبيات دري بوجود آوردند كه درجهان بشريت بي مانند وبي همتاميباشد .

اين تحول وانقلاب فرهنگي ادب رادرخدمت اسلام قرارداد ولي طعمه خواران دربارهمه جا سد راه ايشان گرديدند وآثار ايشان را مورد انتقاد قرارداده به اذيت واهانت ايشان پرداختند .

اين بودكه عرفادرگوشه وكنار ازاظهارمطالب خويش ازصنايع بديعي وعلم بيان كارگرفته ودراداي مطالب خويش ازصنايع مجازتشبيه، كنايه واستعاره‌استفاده نموده وزبان دل را به سمبول هاي مجازي درصفحات عرفان متجلي ساختند .

باذكر اين مختصر ، رشتهٔ سخن رابدست محمود شبستري مي دهيم وببينيم كه راجع به اصطلاحاتي كه درابتداي اين بحث ذكرآن رفت چه مي گويد :

سوال :

شراب وشمع وشاهد راچه معني است
خراباتي شدن آخرچه دعويست
(اميرحسين " حسيني " هروي)

جواب :

شراب وشمع وشاهد عين معني است
كه درهرصورتي اوراتجلي است
شراب وشمع ذوق ونورعرفان
ببين شاهدكه ازكس نيست پنهان
شراب اينجازجاجه شمع مصباح
بودشاهد فروغ نور ارواح
زشاهد بردل موسي شررشد
شرابش آتش وشمعش شجرشد
شراب وشمع وشاهد جمله حاضر
مشو غافل زشاهد بازي آخر
شراب وشمع جان انوار امراست
ولي شاهد همان آيات كبري است
شراب بيخودي دركش زماني
مگرازمكرخوديابي اماني
بخورمي تازخويشت وارهاند
وجودقطره بادريارساند
شرابي خوركه جامش روي ياراست
پياله چشم مست باده خواراست
شرابي مي طلب بي ساغروجام
شراب باده خواروساقي آشام
شرابي خورزجام وجه باقي
سقاهم ربهم اوراست ساقي
طهورآن مي بود كزلوث هستي
تراپاكي دهد دروقت مستي
بخورمي وارهان خودرا زسردي
كه بدمستي به است ازنيكمردي
كسي كوافتد ازدرگاه حق دور
حجاب ظلمت اورابهتر ازنور
كه آدم را زظلمت صددمدشد
زنور ابليس ملعون ابدشد
اگر آئينه دل رازدوده است
چه خود را بيند اندروي چه سودست
زرويش پرتوي چون درمي افتاد
بسي مشكل حبابي بروي افتاد
جهان وجان براوشكل حباب است
حبابش اوليائي راقباب است
شده زوعقل كل حيران ومدهوش
فتاده نفس كل راحلقه درگوش
همه عالم چه يك خمخانه اوست
دل هرذره اي پيمانه اوست
خردمست وملايك مست وجان مست
هوامست وزمين مست آسمان مست
فلك سرگشته ازوي درتكاپوي
هوادردل باميد يكي بوي
ملايك خورده صاف ازكوزه پاك
بجرعه ريخته دردي دراين خاك
عناصرگشته زآن يكجرعه سرخوش
فتاده گه درآب وگه درآتش
زبوي جرعه اي كافتادبرخاك
برآمد آدمي تاشد برافلاك
زعكس اوتن پژمرده جان گشت
زتابش جان افسرده روان گشت
جهاني خلق ازوسرگشته دايم
زخان ومان خود برگشته دايم
يكي ازبوي دردش عاقل آمد
يكي ازرنگ صافش ناقل آمد
يكي ديگر فروبرده بيكبار
خم وخمخانه وساقي ومي خوار
يكي ازنيم جرعه گشته صادق
يكي ازيك صراحي گشته عاشق
كشيده جمله وماند‌ه دهن باز
زهي دريادل ورندسرافراز
درآشاميده هستي رابيكبار
فراغت يافته زاقرار وانكار
شده فارغ ززهد خشك وطامات
گرفته دامن پيرخرابات

ادامه دارد

ادب وعرفان اسلامي

دمديني لاروي ته

ناگار

اي دكعبي سيلاني ته به تش زمزم راوړې
كه ته پيغام دژوندانه به له حرم راوړې
دنبي كورته دجهاددقافلي قاصده !
غبرگون به څنگه ؟ ددعادشومه دم راوړې
كه له حرانه دي نظرپه ستراحدولگي
داتسلسل به په هماغه كيف وكم راوړې
هغه شيبي دپټ پټاني چي بي جهان كړېدل
د" لاتحزن " غږبه له خوني دارقم راوړې
كړه مصوره زمانه دمقدس انقلاب
ژوندي تصويركه دعلي (رض) ، حسين (رض) دچم راوړې
دپيغمبر(ص) كورني دادقرباني پيلامه
والي دبادچي دحمزه قلم قلم راوړې
دقدس قاتل چي لمن وينځي دخليج په اوبو
دامت ويني ته نجات څه له ماتم راوړې
دلته بي وشيندي زموږپه سيلابونو وينو
كه په خولي كي بي پاكي خاوري دقدم راوړې
زمانه واړه دابوسوال دي له مومن امته
كه بي خواب دابوذر(رض) عهدوقسم راوړې
زوړروايت دي له پاڅون سره جفاناگاره
كه په القابوباندي پټ اداورم راوړې

زنجيرشكن

دلجو" حسيني "

شكن زنجير دوران ستم را
كه دراوج شهادت لانه داري
بسوزان تاروبودبرده گي را
اگردركوي غيرت خانه داري
×××
بدين هنگامه هابيدادشوزود
بگير ازدست دشمن ستگرخود
خدارا شرط ايمان اينچنين نيست
كه بركافردهي بوم وبرخود
×××
تراگرعرصه پيكارتنگ است
بكوي بي خودي عزم سفركن
وياهمچون دليران جهان ساز
بناي غيررا زيروزبركن
×××
نهنگ بحرغيرت اينچنين نيست
كه خرچنگش بدام خويش گيرد
زآب مرده ساحل گريزد
به تيغ موجها مردانه ميرد
×××
به اين ميهن فروشان ستمگار
مكن سازش كه فرصت تنگ داري
خدا(ج) باتست پيكارتوحقست
توشاهيني چوآهن چنك داري
×××
بياغوغاي دوران سازميكن
سرود رزم را آغازميكن
قفس جولانگه پرواز نبود
به آنسوفلك پروازميكن
×××
تواي مومن ، تواي نيروي ايمان
مگرفرمان حق ازياد بردي
دگرگون تانسازي عالم خود
يقين كاخربه ذلت جان سپردي

لاتراوسه

د"فايض " انتخاب

زه اول هم ديوانه وم ، ديوانه يم لاتراوسه
له دلداره همخانه وم ، همخانه يم لاتراوسه
له طفلي نه عاشق وش وم، غم طلب اوبلاكش وم
ددلبر دمخ په شمع، پروانه يم لاتراوسه
زه هلك هم افسانه وم له عالمه بيگانه وم
ترڅلوېښتوكالو تيرشوم ، بيگانه يم لاتراوسه
چي عاشق په جانانه شوم، له اغياروكرانه شوم
تورويښته مي دسرسپين شو، كرانه يم لاتراوسه
چي داخل دياريه صف شوم ، دتهمت دتيرهدف شوم
عام وخاص مي واړه ولي نښانه يم لاتراوسه
تل راضي ئي په قضاوم، هم صابرئي په بلاوم
عذرنه لرم له حكمه ، بي بهانه يم لاتراوسه
دشيرين دلبرله لاسه ، ماشراب دعشق بي قياسه
څوبي حده مي ډيروڅښه فرزانه يم لاتراوسه
دافقيردولت يومست يم ، دآشنابه مينه مست يم
به اوّل مي شراب څښلي ، ديوانه يم لاراوسه
دولت الله " لواني "

دمحبت غوټي

ملنگيار

چي غوټي.دمحبت سپرم غوړيږم
خوږنظرته دي دميني هوسيږم
چي بهاردمحبت راباندي راشي
په باران دخپلواوښكوزرغونيږم
ستارضا زمادژوند ټوله بنادي ده
چي په كومه ته خوسيږي زه خوسيږم
چي دځمكي په څير پروت يم ستاوشان ته
په رضا دي دكرم غيږته رسيږم
ستادميني دحاصل ميوه مي كړي
چي په كاڼو داغيار په سرلگيږم
بنه مي ځان دمحبت په اوركي سيزه
نه سړيږم لاگرميږمه توديږم
كه دي مخ راته څرگندپه اخردم شي
خپل اميد لره رسيږم خوشاليږم
ملنگيار يم ستادعشق له ډيره حرصه
لاس په نام درته بيگاه سبادريږم

بيدارشه

سيدولي " قاطن "

دبري روستي شيبي دي ، دجهادسپاهي بيدارشه
راروان دي شازشونه ، فتني اچوي هوښيارشه
توطيي بي خنثي كيږي، دتورمخو مداريانو
مات طلسم ددښمن كړه ، تش كالبوددي خبردارشه
چي ويل به ني دازه يم ، اوس په سوړو ننوتي
اي امين دحقي لاري، پاك الله دي مددگارشه
د" احد " "بدر" په جنگ كي ، ته پخوابي ازميل شوي
په ډگر دقرباني كي ، بوځل بيا چمتو تيارشه
ژوندون تل غواړديت، خوداسلام دقانون لاندي
له ظالمه دي حق واخله ، ياشهيد په پاكه لارشه
كړي خولي واړه سميزي ، دهمت په پاكه توره
غورڅنگونه كړه ډيل مكړه ، دتوحيد سپاه سالارشه
ته دحق مبارزه كي ، صرف له خدايه (ج) مدد غواړه
پاك الله تاله كافي دي، سروهونكي داغيارشه
دپتنگ غوندي چي سوځي، دتوحيد په ډيوه هغه
له يوه غيرتي ځوان نه ، دبي ننگو ولي ځارشه
خپلوكړوته دي " قاطنه "، نظروكړه كه هوښياريي
تل نيكي كوه نيك اوسه ، اوله بدوتوبه گارشه

رفت نورديدگانم

نصيراحمد " حادث "

سحرهرگز ازكف موسي عصايي برنخاست
سامري گوساله رااعجاز جايي برنخاست
رفت نورديدگانم همچويعقوب اى دريغ
يوسفي نامد زچه ميمون لقايي برنخاست
سيرها كردند درآفاق ودرانفس ولي
روح مي داند كه غيرازمن همايي برنخاست
چون دخيل افتاده درباغم به سروم كارنيست
قامت دلجو ندارم دلربايي برنخاست
نيست گرآئينه ام آهم كم ازآئينه نيست
همچوموجش زهره وپروين نمايي برنخاست
خيمه برپاكرده شيطان چارسوي شهرعشق
شش جهت عشاق ويك صاحب لوايي برنخاست
انتهايي نيست شام ماغريبان راشبي
روزما رازابتدا ، مهرصبايي برنخاست
عندليب نغمه پردازم زهجران داغدار
لاله گون محروم وصل گل رجايي برنخاست

ايماني خلا

مبشر

لورهمت زموږدلوړتاريخ مضمون دي
دايمان په پاكه توره موږاخون دي
موږته درس دآزادي اسلام ښودلي
دالله (ج) دبندگي داسي قانون دي
دژوندون كاروان به روغ په لاره بيايي
هغه قوم چي دالله (ج) په لار بي بون دي
هردښمن ته موږپه ځغرده ځواب وايي
دقرآن دحكمتونو داتړون دي
په څراغ دحقيقت چي يو روښانه
دهغوي سره زموږه پيوستون دي
چي دخداي په دين دښمن سره جنگيږي
" مبشره " هردښمن بي خوارزبون دي

ځرخي ځوکي

«ننګيار»

له کرمي ورځي نه چي زه خداي (ج) ددغي ستري اولوړي ځوکی، څښتن کړي يم ، له هماغي ورځي راهيسي مي ادي خواره همداسي تيغه په سترګوکي ولاړه ري ځکه هغي به هروخت زما دبنه کارپه بدل کي لاس پورته کړل اودعابه يي کوله چي زويه خداي (ج) دي دومره ستره ځوکی درکړي لکه دا" منا " .

ځوکی خولاتراوسه هومره غټه نه ده جوړه شوي خوداميزمي يقيني هماغه د"منا" قدري دي په کومه به چي زمونږ دمستو، شيدو کټوي، دمنداړو کټو داويومنګي ، خميردان اونوردکورزيات اسبابونه ايښي وه اوجګوالي يي هم دخوني له سطحي دمتريه اندازه ؤ.

اوس نودازما دميز سرهم هماغسي لکه هغه زمونږ د" منا" ددفترله ضروري او غيرضروري شيانو ډك دي ، تاسي لږورته وګورئ! دوه ، دري قلمداني ، سنجاق داني ، سنجاق ټومبونکي " ايستپلر" څلور ، پنځه رنګه ښکلي کاڼي، دکاغذ دسوري کولو ماشين ، څوتيلفونه اويي شميره دوسيي اوکاغذ ونه !

تاسويه وايي چي دادومره شيانوته ضرورت څه دي ؟ خوره به درته ووايم چي که ضرورت شته اوکه نشته زما پري څه کارهم نشته اصلي خبره داده چي يو خو پيسي دبل دي اولګول يي زما اوبل داچي همدغه شيان خومي يي له وريږند لوخلکوته ورپيژني اوچي هرسړي محض کوښي ته راننوزي اوزما پرلوي ميز اولوړي ځرخي ځوکی يي سترګي ولګيږي نوبيا وخته پوه شوي وي چي "آمرصيب " همدغه دي .

خبرا زما په قداوقواره پوري مه خاندی،چي البته زماله ميز اوځوکی سره ډډه نه لګوي بلکه زما ځانګړي پوهه ، چالاکي اوپسته ژبه وګوری،چي که ژوندۍ،ډيري داسي ځوکی،به نوري هم زري اولري وغورځوم .

شايد ډيروته به ددغي ځوکی،خوند اوکشش نه وي ورمعلوم اوچي پري له سهاره تربيګامي داسي کلك سنجاق ويني ، وايي به چي البته داسړي ناديده دي اونوي يي پيداکړي . خوزه وايم چي داخبره هم سمي ده ولي حقيقت دادي چي خوند او کشش يي دومره ډيردي چي زړه مي نه غواري حتي په ضروري وختونوکي هم تري اوچت شم اوکله ، کله خودازړه راته وايي چي بيګايي مي کورته راسره ورړلاي اوهلته هم پري کښينا ستلاي ترڅو کوروالو اوخپلوانو هم ليدلاي واي چي دڅومره ستري ځوکی ښتن يم . که نه هسي تصويرونه خومي ډيرڅه په مسکااوخندا اوڅه په سياست اوغوسه کي پري اخيستي ، خوله دي خلکو شرميږم ، بياکله ، کله زړه راغوند کړم چي راځه صيب ته ووايه چي دکورلپاره هم يو همدارنګه ميز اوځوکی راته واخله ، اوبانه هم دډيرو کارونو او مصروفيتونو ورته وکړه خو هروخت چي هغه ماليدلي داټټډه يي همداسي تريونيولي وي چي دهغه له امله مي دغه آرزو همداسي مړاويي په زړه کي پاتي شي .

وايي چي " ميړو له خنداوړي" که نه چيري زه اوچيري داغټ ميز اولوړه ځوکی، ! خداي (ج) راکړي اوهغه پوري زيارتوراکړي اوبيا ورسره خداي تعالي دهغي دساتلو هنرهم راکړي ، اوکه نه هسي خوداځوکی، خپله هم سړي ته ډيرکمالونه وربښي ، تاسولږراته ځيرشي يوځل زما ځيري اوتيف ته وګوری اوبيا دغي ښکلي اولوړي ځوکی،جاني ته ! هغه چي قدبي په ناستي کي زماله سره يوه ، يوه نيمه لويشت اوچت دي اوکه مي لږڅکه ورکړه نوځرخونه خويه يي تاسوهم ونه شي شميرلاي ، زړه مي راته وايي چي ټوله ورځ مي ځرخولاي خودامزاحمين مي نه ورته پريږدي ، حق وناحق به راروان وي يويه وايي آمرصيب داسي ده اوبل به وايي هسي ده ، داځنګه کرو ؟

اوهاغه ځنګه کړو؟ زما ديلاوريسي شي چي هرځنګه يي کوي، آخرزه انسان يم ، هوس، ادرس به لرم خوځوك دچاځه پروالري . ممکن ډيريه زما داکتوتويه ليدلوداڤکر وکړي چي البته زه رښتيا کوم اکتوريم اوپدي برخه کي مي ځانګړي زده کړي،کړي دي ولي دوي اشتباه کړي ځکه داهرڅه همدغي ګراني ځوکی، راوښودل مثلا اته ، نهه ډوله خندا، څلور، پنځه ډوله غوسه ، په سترګو، سراو قلم ښوررولو خبري کول په يوه شيبه کي پرله پسي ځوکرته خندل ، مسکيدل، تروشيدل اوبيالاخره غوسه کيدل ، غاړه تازه کول، دسترګو اوسراشارتوته او ....

شيطان کافردي کله کله چي ځوك راسره پيږ ، دوه کړي په تيره داملازم.نوراته وايي راځه په داکاڼي يي

په داسرو له چي ورته معلومه شي چي آمرڅه ته وايي ځکه زمايه اشاروخولاتراوسه پوه نه شول خوبيا دي ادي دُعا اوهغه " منا " رايه يادشي لاحولاکړم اودصيب په راپادولومي غوسه سره کړم .

په آخرکي اجازه راکړي چي خپلي خبري په دايوه شعارپاي ته ورسوم ، تل اولوړه دوي زما ځرخي ځوکی .

عيدقربان

طارق

اي همرهان اي همرهان پيمان هاشکسته اند
اندرميان محرمان نامحرمان آورده اند
اي عاشقان اي عاشقان دستي بدست هم دهيد
کاين ظالمان اندرخفا ازخون دلهاخورده اند
درمګت هاي محتسب شلاق تکفيرديده ام
پيمانه هاخالي زمي درپيش پا افتيده اند
آزادګان آزادګان فريادي،شوري،همتي
صيادها باتيرهايي دردسرآسوده اند
آتش زنان آتش زنان درپيش چشم بلبلان
دود ازدماغ بوستان تاآسمان اندوده اند
ګوئيم اين آتش بس است نمرودمي شرمد ازآن
ګويند اين دستورراارباب مافرموده اند
چون عيدقربان بسملان فرمان قرباني دهيم
بي خون وقرباني کجا؟ آزادګي سرداده اند

اي معلم

عبدالرقيب "جهيد"

اي معلم وارث پيغمبري
درره حق رهنماورهبري
باربس سنګين بردوش شماست
اين امانت راخيانت بس خطاست
کوکب رخشندهٔ دين مبين
بوده يي الحق تو درروي زمين
اهل دانش رانوازش داده رب
- يرفع الله آيت حسن ادب
مشعل دانش فروزان درجهان
تاشوي اندرشمارمخلصان
ګنج بخش مخزن قرآن تويي
نورچشم دانش آموزان تويي
ګفت " جهيد" مدحت برسم يادګار
خواست توفيق ترا ازکردګار

نعت

غلام محمد « ناخوان »

عزيزان نورالله در مدينه ست
رسول حق تعالي درمدينه ست
بيرحاجي سلام امتانش
نبي ورهبرمادرمدينه ست
بکن عرض غلام اش بامحمد(ص)
که شاه جمله شا هادرمدينه ست
محمد (ص) آفتاب هردوعالم
حبيب خالق مادرمدينه ست
منورشدجهان ازفيض نورش
که آن نوروتجلي درمدينه ست
نداردهيچ ګل عطرجمالش
ګل خوشبووزيبادرمدينه ست
به عالم بي نظيراست شهريثرب
چراکه روضه شاه درمدينه ست
بروناخوان به سينه سوي کويش
که آن غمخوارفردا درمدينه ست

ستاسو په تندوکي برکت دي

الباري غيرت

تاسو دجهاد څومره ليوال ياست .تاسو دا احساسوي چي دا دلوي خداي (ج) امردي اوسپيڅلي فرمان، همداسي ده چي تاسو دي مقدس کارته ورځغلي ،منلي وهي اوپه دي لارکي دهيڅ شي پروا نه ساتي.

تاسو په کافر دښمن ،دخداي ددين په دښمن ،دانسانيت اونيکمرغي په دښمن داسي برغل ورووړي اوداسي تيز وررواڼيږي چي له سيئو څخه موغورکاځيږي ، تاسو دخداي (ج) امرته داسي منقاد ياست چي دجهاد په لاره کي سمه اوغر ،لوړه اوژوره نه ګوري اوله پسو څخه موجي په تيزو لګيږي سري لمبي پورته کيږي .

تاسو چي دسهار په وخت په ظالمه دښمن ورتيريږي ، قضا ټوله په دوړواو ګردونو نيسي ،اودخداي (ج) دښمن اودانسانيت دښمن داسي راايسار وي چي تعبيري نشي کيدي.

هو! ستاسو په تندو کي برکت دي او ستاسو دانيکمرغي بس ده چي لوي خداي (ج)لوړه دريانړي کړي ده . هغه ذات په تاسو عالم دي چي ستاسوداټولي

حلي ځلي دخپل خداي (ج) دخوښي دپاره دي کوم چي انسان يي اشرف المخلوقات ګرځولي دي خوبيا هم همدغه انسان دخپل خداي (ج) په باب ناشکره دي اوبخيل .

دي پخپل دغه ناوړه عمل نه پوهيږي خوبيا يي هم کوي .

داانسان ددنيا دناځيزه اوفاني مال سره څومره مينه لري چي دهغه دغونډو لو دپاره هرڅه ترينو لاندي کوي . عزت ، شرف ، وقار ، اخلاق په دين او دانول . آيا دغه انسان نه پوهيږي چي کله دقبروتوخاوندان راپاځول شي اوهغه څه ښکاره شي چي ددوي په ژوندکي دي ، اوپاك خداي (ج) دګا ددوي په ټولو عملونو آګاه وي اوحساب او کتاب به ورسره کوي . نوکله چي خبره داسي ده راځي چي دخپل خداي (ج) د پاره ايثاراو قرباني په ځانوومنو.ده په نعمتونو شکراني اداء کړواوده له عبادت اوتنا څخه غافل ونه اوسو ،ځکه چي همدغه لوي ذات موږ بنيادمان مکرم اودخطاب ورګرځولي يو . په آخرکي وايم چي پاك خداي ستاسو ستاينه کړي ده ځکه چي تاسو داسلامي جهادليوال ياست

دسبانسيمه واوره

ملااسدالله حنيفي

ته چي ځي دوطن خواته دسبانسيمه اواوره
رب دپاره راته غورشه تيريادونه درسره کړه
په زارودرته زاري کړم په عذر رونودرته عذر
داتحفي درسره يوسه سلامونه درسره کړه
دمهجرزړګي پريادي دوطن په خوابي ليږم
ته خودروصي ځي روان ني پرياد ونه درسره کړه
دهجرت له دي جونګړي ځوسلګي درسره يوسه
ديتيم دزړه له تله ځواهونه درسره کړه
دپردي وطن له لوري ته چي ځي زماوطن ته
لړزاتم شه لړزاتم شه پيغامونه درسره کړه
خومره بخت درکړي خداي دي چي زماوطن بوسي کړي
هله بيړه کوه دروحه داويرونه درسره کړه
اي نسيمه ! واوړواوره ته چي ځي زماهيوادته
دهجرت له دنيا کي،نه ارمانونه درسره کړه
څومره ښه يي څومره ښه يي چي سباته رواڼيږي
سوال هي ومنه زاري کړم بهارونه درسره کړه
اي نسيمه اي نسيمه دغه بخت دي مبارك شه
چي ورځي دافغان کورته خوږدونه درسره کړه
حنيفي درته ليکلي ده غزل دزړه په وينو
ته چي ځي ددي غزل پوځوبيشونه درسرة کړه

دکونډي اختر

ګل ملاهمکار

زره خيمه کښي خواره کونډه په ګريان ژاړي
چاته لګياده اوغمونه ددوران ژاړي
ته په اخترکي خوشحالي وخنداګاني کوه
ماته پدي نيکمرغه شپوکښي يتيمان ژاړي
په چم ګاونډ موخلك واړه په ټالونو ځانګي
ماځنګوي دفکرټال چي مي بچيان ژاړي
ځوك په مزوکي خوشالو کي وي خونډونه اخلي
زماصبا بيګالدي غمه چشمان ژاړي
چي بدن روغ وي هوښياران وايي هغه اختروي
موږه بدبختوته کاله کي بيماران ژاړي
دزماني داتقاضا ده چي احساس نشته دي
نه مي ځوك غم راسره ژاړي نه تاوان ژاړي
اخترخوهغه وچي پلار داولادونوموږ
په بي کسي،مي لاندي زمکه پاس آسمان ژاړي
همکاره پدي ژړولو دقلم په ځوګه
ددي غزل په اوريدويه هرانسان ژاړي

اسرارالعارفين څخه

ملاشيرمحمد هوتك

نه يي شکل نه صورت شته
نه يي خوب نه يي غفلت شته
نه دي جسم نه جوهردي
نه عرض نه مصور دي
نه معدوددي نه محدوددي
نه معدوم دي نه مفقود دي
نه بالادي نه پائين دي
نه يساردي نه يمين دي
بي له ځايه بي مکان دي
بي له وخته بي مکان دي
نه خپه دي نه خندان
نه هيڅوك دده خپلوان
نه تغير کانه بدليږي
نه له چاسره يوکيږي
هرچه عقل وررسيږي
هيڅ صفت پري نه جوړيږي
که څه عيب دي که نقصان دي
منزه ځني سبحان دي
حقيقت يي معلوم نه دي
دافهامومفهوم نه دي
که ملك که جن بشردي
له حيرته کوروکردي
ستايه فکرکي سودنشته
بي له عجزه بهبودنشته

هوښيارګرزه

دفرمان الله " انتخاب "
مرحوم فاضل :

په دادورآخرين کي هوښيارګرزه
چري نه قدم غلطه کړي بيدارګرزه
که دي ځان له خندوخاره پاکيزه کړ
په اصلي ګوهرکښي خوبن لکه تارګرزه
دچندن په دودکه ځان په سنګ ګسان کړي
بوربي غم دمحبوبايه رخسارګرزه
له ځادره پښي اوږدي په هورته مه کړه
لکه ته يي په خپل قدر مقدار ګرزه
که طاقت دبل مرکب درځحه نه وي
دغه خپلي پښي مرکب کړه پري سوارګرزه
په خپل حدحدود کښي هرسړي سلطان دي
ترخپل ځان چاپيرپه ځيردپرکار ګرزه
که دي رنګ بولطافت هنردځان کړ
نوردګل په ځيرني پاس په دستارګرزه
چي هرځوك صورت ځال په تاکي ګوري
صاف صافي داښي په کردارګرزه
کميني هرګوره سه ځيردي که ګوري
دهرچاباروته وره بردبارګرزه
ټن سبايه خزان راشي اي فاضله
که دګل نتداره کړي په ګلذارګرزه

دراوج مردي ګام زن

" محمدياسين نيازي "

زندګي زشت است وننګين دراسارت زيستن
ګرچه باشد جايګاهست روزن مشك ختن
دراسارت زيستن مرګ است واستحضاروورنج
ذلت وخواريست درفرجام وآزادي حسن
ګرنهي تاجي زسيم وزربه فرقت تاابد
دورکن دستارذلت برزمينش درفګن
مايه فخراست اګرآزادباشي بك نفس
همچوبلبل نغمه پردازي کني اندرچمن
درتقيدزيستن مرګت بود بهترازانك
ګربه سرآري حياتت باتعفن درلجن
ګرهمي خواهي شوي آزاد ازقيد حصار
بردرد ديواردشمن بي امان آتش بزن
دراسارت ګرتوباشي برسرتخت حرير
پشت پازن برسرش دراوج مردي ګام زن
ګرتوبنشيني به قصرعالم کيوان بدانك
چون تودربندي زباب حريت حرفي مزن
ګلزمين ! ګهوارهٔ مردآفريني ميهنا
ازخدا (ج) خواهم برايت افتخارت اي وطن
سرزمين رادمرداني وګردان پروري
آب توپرکيف ودرايت پرازدرعدن
برمن شيداي آزادي مګوحرف د ګر
جزچنين حرف ګوارا ناخوش آيدم مزن
شيوه آزاد زيستن فطرت آمال ماست
ميدهم سردرره حفظش به ميدان جان وتن
ميهن همچون ګلستانم غمت بګرفته دل
حيف ګشتي پايمال کرګس وزاغ وزغن

دکونړ فتنه..

برخه واخیسته . او نتیجه ئې په دې ډول اعلان شوه .

حزب اسلامي افغانستان ۳۵ چوکي ، دشیخ جمیل الرحمن دله ۳۵ چوکي، جمعیت اسلامي ۱۵ چوکي ، دمولوي صاحب خالص اسلامي حزب ۵ چوکي ، اتحاد اسلامي ۵ چوکي ، دمولوي افضل ډله ۵ چوکي ، دمولوي صاحب منصور حرکت انقلاب ۳ چوکي ، دمولوي صاحب محمد نبي " محمدي " حرکت انقلاب ۳ چوکي ، داعیه اتحاد ۳ چوکي ، اواشاعت التوحید ... یوه چوکي .

که څه هم دحزب اسلامي قوماندانانو درایه شماري په جریان اصولي اعتراض درلود خودجهاد دمصالحو په خاطرئې بې چون اوچرا دمولوي صاحب غلام رباني له خوااعلان شوي انتخاباتي نتیجه ومنله . مګر ملاجمیل چې پدې فکروچې دامریکا دمزدورانو دپیسویه ویش به اکثریت ترلاسه کړي اوپدې توګه به د" شیخ نشیني " دجوړیدو لپاره دخپلوبادارانو دستور په آساني عملي کړي ، لجاجت اوماجراجوئي ته لاس واچاو او وروسره ئې جوخت دخپلو چوکیو شمیر ٤۲ اودحزب اسلامي دچوکیو تعداد ۳۳ اعلان کړ. پدې ډول داسلامي شورئ ، انتخاباتو دکمیسیون اودکونړ دمجاهدوخلکو دفیصلې اوارادې دځرګند اوبې شرمانه سپکاوي مرتکب شول .

ملاجمیل پدې اکتفاونکړه ، بلکې ځان ئې دکونړ "شرعي امیر " اوکونړئې دخپلې " شیخ نشیني " قلمرو اعلان کړ . ترڅې وروسته ئې دامریکا دجاسوسي حلقو لخوا دورکړل شوي نقشې اوامکاناتو له مخې دنورو احزابوقوماندانانو تطمیع کول اوبیاهم دزور اوسلوال اقدام له لارې دهغوي تسلیمول شروع کړل ، چې داخو ورځې وړاندې يې دحزب پرمواضعو برید دهمدې لړۍ یوه کړۍ وه . اوداهغه تلاش دې چې غواړي کونړ ټول ترخپلې تارواقبضې لاندې راولي اوبیادلته خپله فاشیستي استبدادي واکمني ټینګه اوهغه کونړ چې دکفر، الحاد او روسي یرغل په وړاندې دافغان مجاهد ملت دمقاومت دوياړشمله اودحماسو ټاټوبې ګڼل کیده دګران اسلام او افغانستان پرضد دامریکا ئې کفر او دهغوي دبې ننګه حواریونو دفاجعو اودسیسو اډه کړي موږ دپاس یادشویو واقعیتونو په دقیقه مطالعه دکونړ باشهامته اوجهاد پال ولس ته اعلانووچې :

الف : ملا جمیل الرحمن په اسلام پال کونړکې دوحدت ، امن ، سوکالي ، نظم ، دبیاابادولو دچارودپرمختګ اوبوې نمونه اسلامي اداري دجوړولو لپاره دجهادي ځواکونو دړغنده هاند اوپروسې دتخریب اوسبوتاژدلوي جرم مرتکب شو اوپدې توګه ئې زموږ دمسلمان ملت له جهاد اوهدف سره سترخیانت وکړ اودکونړ دګوریدلو مسلمانانو دنیکو هیلو اواحساساتو خون ئې په غاړه واخیست .

ب : ملاجمیل دپردیو دلاس آله ده ، نه دافغانستان دمسلمان ملت دسرنوشت تقاضا ورته ارزښت لري، نه دجهاد دوقار اوحیثیت دتاواني کیدو پروالري اونه له خپل وطن اوخلکوسره علاقه لري ، یوخودفروش اومنافق پلوروونکي سړي دي چې خپلې ګټې داجانبو دشومو نقشو لپاره دالي په توګه دنقش په اجراکولو کې لټوي .

ج : ملا جمیل دقهرمان کونړ په سربېره بدنامه اوکرغېړنه لویه پیل کړي ، دالویه ده دځینې عربي " شیخ نشینو " په څېر کونړ داستعمار دپلانونو دپلي کیدو یوه اډه ول .

هغه کونړچې ټول افغانستان وړته په ځانګړې درناوي ګوري ، او ټول مجاهدین ئې دافغانستان دګوټ ، ګوټ لپاره داسلام دسپاهیانو " روزنځاي " او " پالنځاي " ګڼي په هغو ورځوکې چې مجاهدین دامکاناتو له فوق العاده کمبت سره لاس ګریوان وو دقهرمان کونړ د" فتوحاتو" په ثمره دافغانستان په بیلابیلو برخو کې داسلام اوآزادي مقاومت تردشوي دي . خوئن عاقبت نااندیش ملاجمیل خان غواړي له ګران افغانستان نه دکونړ د" بیلتون " په مذبوحانه هلوځلو ددې اتل ولایت پرلمن توروداغ کیږدي .

د : حزب اسلامي افغانستان متعهدوي چې دګران اسلام له حریم نه به په ټول قاطعیت دفاع کوي داسلامي انقلاب اصالت به ساتي ، دخپل مسلمان ملت نظریې، شرف، استقلال، آزادي، وقار، اوپوهنټیزته به دواقع خطرونو دژوند ترووروستي شیبې جدي مقابله کوي اودهیوادتمامیت اوملي وحدت پرخلاف به دټولو مذمومو اوخاینانه تصمیمونو اوحرکتونو په وړاندې دغښي په صراحت اومعقولیت برخوردکوي لکه چې دخپل ۲۳ کاله فکري ، سیاسي، نظامي ژوند په اوږدوکې ئې کړي دي په همدې بنادقهرمان کونړ ګرانو مسلمانو وروڼو ته په پوره باور ډاډورکوو چې دهغوي دنظرئې ، شرف، وقار، حیثیت ، عظمت اوهدف هردښمن اوذپردیو مزدورچې په هره بڼه اوقیافه وي به په ځاي کینوو او په ټول قوت به ئې له شراوفتنې داد شهیدانو اومجاهدینو دحماسو اوعظمتونو ولایت ژغورو. ان شاء الله

په افغانستان کي دروسي پوځ ماتي اودامريکا ناوړه هڅي !!

شمس

له هغه وخته چې روسي پوځ په افغانستان کي دپوره ماتي اوورسوابي سره مخ شو او دخپل وطن په لوري بې حرکت وکړ ، نودامریکادظلم اواستبداد په کرسیوناستواوباشانو په سرونوکي دافغانستان دشهید پالي هیواد . دوګړو داغفال او تیرایستنې اوپدي هیوادکي دسلطې پیداکولو رنګارنګ خیالونه را پیدا شوي دروسي تجاوزګرپوځ دظلم اووحشت لمخه په پوره ګټې اخستوسره بې دنړیوالو تبلیغاتي وسایلو پواسطه دمرستي اوهمدردي تاري شوري جګي کړي، په ملي اوبین المللي سطحه بې پرافغانستان باندې دروسي پوځ تېري دخپلو شومو اغراضو لرونکوغاینده ګانو لخوا دغونډو اوکنفرانسو پواسطه بوځرګند تجاوزاودافغانستان په داخلي چاروکي بربنډه لاس وهنه بلله .

خپل ځان بې ددې کړېدلي هیواد خلکو ته ډېر نژدې مرستندوي اوهمدردګاڼه .

اودخپلي غوړي مړي په پیداکولو پسې بې هر ډول ناوړه هڅې په کارواچولې خو لله الحمد ددې هیواد خلك دقرآن په پلوشوکي روزل شوي ،قرآني هدایات اودحضرت سرورکائنات محمد صلی الله علیه وسلم په ارشاداتو او لاربېوونو بې پوره عمل کړي او ددین او وطن ددښمنانو په توطیواودسیسو نه غولیږي زموږ پرمومنوخلکودحضرت محمد (ص) دهغه حدیث شریف څخه په پوره ګټې اخستو سره چې وایي " دمسلمانانو په مقابل کې ټول کفري ملکونه یو واحد ملت دي"

دروس - امریکي اونوروغیراسلامي هیوادونو هیڅ توپیر نشته هریوه ته به دتجاوز اوتیري په مقابله کي سخت اونه هېرېدونکي ځواب ورګوي - هرهغه ځوك ګرڅ چې زموږددین اوآیین مخالف وي یا زموږ دهیواد په داخلي چاروکي لاس وهنه کوي - په کلکه غندنو اومقابله به بې کړو موږ ټول کفري ځواکونه په سرکي بې روس اوامریکا دواړه دخپل ځان اودنړي دمسلمانانو سخت دښمنان ګڼو داخبره اوس ښکاري ثابته شوي چې دنړې ښکیلاکګر او کفري ځواکونه داسلامي هیوادونو په ټکولو - دداخلي امنیت په ګډوډولو، په ملي اوبین المللي مسئري کي دهغوي دنوم اوشان نه درلود لو. په نړې کي دبوقوي اومبارز ملت په صفت دنه مطرح کیدوپسې لاس اوپښې لوځي کړي - غواړي دغه حکومتونه په نړې کي سر راپورته نه کړي . دبو سوچه اسلامي حکومت جوړولو پلانونه بې ورشندکړي لکه دوي له دغه رنګه حکومتونوڅخه کرکه کوي . خپلې ګټې خطرکي وېني شوم اوناوړه اغراض بې سرته نه رسیږي .

ددغه کفري ځواکونو د دارنګه شومو هیلو ځرګندي نمونې تن سیا دافغانستان کړېدلي ملت کي وېني - زموږ په خداي اووطن مین هیواد وال کله چې دنجیب ګوډاګي حکومت راپرزولو ته راتږدي کړي نودهغوي بادارانو له یوې خوااوبلې خوا په چیغو اوکوکارو شروع وکړې کله د ژنیو دخبرواترومسئله رامنځته کړي - کله د روغي جوړي !! مسئله، کله داوریند تاري سوري جګي شي اوکله هم دملل متحدلهلخوا دپنځه فقره ایزوسوله ایزحل مسئله رامنځته کړي - اویا هم دمجاهدینو په منځ کي دخپلو نوکرانو په راپورته کولو اوهڅولو لاس پوري کړي دمجاهدینو په مینځ کي لوي هرج اومرج جوړکړي ټاسي به لیدلي وي چې پدې وختونوکي زموږ مجاهدو وروڼو دهیواد په ګوټ ګوټ کي ستر بریالیتوبونه ترلاسه کړي ستري فتحې بې په نصیب شوي داسي فتحې چې داسي زړبي چاځپال نشر کولاي - لکه دخوست اودهغې دشاوخوا دعلاقه داریو فتحه چې دا فتحه دمجاهدینو په دیارلس کلن جهادي تاریخ کي ساري نلري ځکه خوست دملحد رژیم یوستر پوځ پوځي سنګرو دسیمې ټولوخلکو بې دملیشې اوسرتیري په نامه ورځني دفاع کوله همدارنګه دخواجه غار دشت ارچي دشت قلعه ینګي قلعه ، درقد دتخار ولایت مرکز اودچتال ولسوالي اوداسي نوري ستري فتحې چې دمجاهدینو په نصیب شوي اودښمن بې په ویره کي اچولي چې نباید ددغه رنګ فتحو لړۍ جاري وسائل شي په نتیجه کي دکابل لاسپوځي حکومت له منځه ولاړشي . نو ضروري خبره داده چې دمجاهدینو فکر باید بلې خواته واړول شي هغه ؤ چې دملل متحد کاڼ په طرحه اعلان شوه به کونړ کي بې دخپلو اجیرونو کرانو پواسطه دمجاهداومسلمان وروورترنامه لاندې دمؤمنومجاهدینو په جهادي سنګر ونوحمله وکړه . چې دمجاهدینو مال او وسله بې تالا اوترغه کړل - څوك بې شهیدان اوځوك بې سخت زخمیان کړل چې دا ناوړه عمل دبوي خاصې ډلې پواسطه چې ترشایې یوستر جهادي ضدقوت پروت دي سرته ورسید.

دااستخباراتي ډله دخپلو بادارانوبه نرمواوچربو وعدوومره مست اوسرسام شوي دي چې حتي غواړي دکونړ په سیمه کي یومستقل حکومت اعلان کړي .

اودافغانستان دمظلوم ملت دراتلونکي لپاره یوبل پرابلم رامنځته کړي :

خوان شاءالله داناوړه ارمان به بې سرته ونه رسیږي .

دغه راز دامریکا خاص استازي پیترتامسن هم دخپلو نوکرانو په واسطه دمهاجرینو په کمپونوکي په مداري شروع وکړه اوخلکو ته بې پوځل بیا خپلې غلطي اوله شوموااغراضو نه د ډکو وعدو اعلانونه په صداي امریکا اوبي بي سي کي پورته کړل ترڅو دخلکو دجهادي فکرونو مسیر بلې خواته واړوي اوخپلې ناوړه هیلې پلي کړي.

پیترتامسن که له ځانه سره هرڅه لري خویدي دي پوه شي چې داملت نورنه تیرولای ستا ددې ډول پټو اوله غرضه ډکوکنفرانسونو غندنه اومقابله دخپل ځان ایماني وجیبه بولي . لکه څنګه چې بې روسي تجاوز ګرپوځ بې په تورمخ له خپلې خاورې وایست همداشان به ستا سو خوله هم دخاوروډکه شي.

موږدافغانستان دمسلي په رابطه ټولي هغه توطيې اودسیسې چې زموږ دراتلونکي منتخب اسلامي حکومت دجوړیدو خنډکیږي - په کلکه محکوموو او په ډېر جرات اومیړانه به دهغې مقابله کوو دښمنان دې نوردافغانستان دغلام اونوکرګرځولو خیال اوخوب له مغزولیرې کړي ددې ملك خلکو په ډېره میړانه دکفري ځواکونو مقابلې ته خپلې سینې سپر کړي او دخپل دین او وطن څخه بې په کلکه دفاع کړي ده - ان شاءالله ددښمنانو ټولي مکرجني هیلې به دخاوروسره خاوري شي او موږ به دخپلې پوره آزادي اودیوه اسلامي حکومت دجوړیدو میاني اومنشاوګرځو.

امین یارب العلمین

استعمار فکري وفرهنگي

خوانندگان گرامي درترتیب وتنظیم مقاله ي فرق ازمنابع مختلف اقتباس صورت گرفته . امیداست که مورد استفاده قرارگیرد .

همه میدانیم که استعمارنوین یاثیوکلنیالیزم داراي یك شکل وقیافه ثابت ومشخص نیست بلکه داراي اشکال وقیافه هاي گوناگون میباشد وازراههاي مختلف واردیك جامعه مي شود .

بنابراین شناخت صورتهاي گوناگون آن دشوار است . درهرجامعه اي طبق مقتضیات ذهني وخصوصیات مردمي ، اخلاقي و فرهنگي مردم آن جامعه وارد مي شود وتسلط خودرا از راههاي مختلف برملت هاثابت مي کند بنابرین جلوگیري ومبارزه باعوامل آن بیداري ، هرشیاري ، وآگاهي خاص انقلابي لازم دارد .

کوشش مي کنیم که درین مقاله به طوراختصار واجمال پیرامون استعمارفکري وفرهنگي وراههاي ورود استعمار به کشورهاي مستعمره اشاره نمائیم .

استعمار باکلنیالیزم ازتوسعه فرهنگ ودانش درکشورهاي استعمارزده سخت وحشت داشت ، بنابرین وحشت وهراسي براي جلوگیري ازتکامل علم دانش هیچ نوع تلاشي دریغ نمي کرد .

سرسپردگان ومزدوران استعماردراین کشورها باشدت هرچه تمامترازورود اهالي کشورمستعمره به مدارس ومکاتب جلوگیري ومبارزه مي کردند وحتي کودکاني راکه درمکاتب نبوغ ولیاقت خودرا نشان مي دادند وامکان داشت درآینده مزاحم استعمارگران شوند ومنافع آنان رابخطرانداززند ازمدارس اخراج مي کردند .

امابالاخره جریان غیرقابل برگشت واجتناب ناپذیرزمان ، استعمار را ناگزیر ساخت تادرروش خود تجدید نظر نماید وهماهنگ باالقتضاي زمان وخواست محیط تغییربدهد .

بناء استعمار قدیم رنگ ولباس خود راتغییر داد وباحربه توسعه علم ودانش وباتاسیس مدارس ومکاتب، پیش مي آید . تادرلباس عوام فریبانه تمدن وفرهنگ ، منافع استعماري خویش راهمچنان حفظ نماید .

روي این منظور استعمار به تاسیس مدارس ، مکاتب ، پوهنتون هاو ، اکادمي ها وپرورشگاههادرکشورهاي تحت اشغال ومستعمرات پرداخت تاباغذاي فکري که بخورد ملت ها وبرنامه هاي ماهرانه ، زمینه رابراي تسلط اهداف استعمار خویش فراهم ساخته .

ازطرف دیگرچون یکي ازخصایص زنده استعمار ، سلب شخصیت ازانسان استعمارزده است ، بناء نه تنها زبان وفرهنگ وتمدن کشورهاي استعماري رابه عنوان تنها تمدن وفرهنگ واقعي درمدارس

عبدالرحمن " نثار "

ومکاتب ومطبوعات تبلیغ کردند، بلکه تفرق وبرتري خودرا از راه نام گذاري کشورها ، شهرها، سوکها، ساختمان هاوحتي تابلوها وخلاصه تمام مظاهرتمدن وفرهنگ بصورت هاي مختلف برخ ملت هاي استعمارشده کشیدند وباتبلیغات کوبنده وهمه جانبه ملتهاي استعمارزده راشستوي مغزي مي دهند . همچنان تلاش مي کنند تابه ملتهاي عقب نگهداشته شده چنین القاء کنندتاآنها مظاهر تمدن استعماري رامعمولا درچیزهاي کوچك وکم اهمیت بجویند مانند پوشیدن لباس، بي قیدي ولاابالي گري وبې بندوباري ولفراط درعیاشي وشهوت راني وباحداکثردرپیشرفت هاي ابتدائي صنعتي آنهم دربسته بندي و مونتاژ صنایع دستي وغیره ...

" هربرت اسپنسر " جامعه شناس وفیلسوف انگلیسي به استعمارگران وهمتایان خودچنین توصیه وسفارش مي کند : " تمدن وفرهنگ وزبان وآداب واخلاق خودرابه اقوام وملل بیاموزیدوآنان رابحال خود واگذارید که همیشه ازآن شماودرخدمت شما خواهند بود " .

پس استعماربراي تحقق همین منظورشوم مراکز تعلیمي وتربیتي ابرابه صورت هاي مختلف وهمچنان مراکز طبي وبهداشتي را درممالك مورد نظرخصوصا درکشورهاي اسلامي تاسیس کرد .

هدف ازتشکیل چنین مراکز درکشورهاي اسلامي این بوده واست تاهویت دیني مسلمانان را ازمیان بردارند وبناي عظمت آن را ویران کنند ، اسلام عزیز رادرنظرمسلمانان تحقیروجوانان مسلمان را ازاسلام دوروومتنفرسازند ، میان آنان وفرهنگ واخلاق اسلامي فاصله ایجاد کنند وجوان رابه موضوعات دیگري سرگرم نمایند وباایجاد تفرقه وفاصله درگفتار عمل وطرزفکرشان ، آنان رابه دوره جاهلیت قبل ازاسلام بازگردانند .

بدین ترتیب فرهنگ مسموم استعماري خودرا درذهن ومغز فرزندان مسلمان ترزیق نمایند که دیگر ،بادین اخلاق و اصول وروشهاي اسلامي وملي خودوداع گفته ودر مسیرفسادوگمراهي قرار گیرند .

یکي دیگرازهمین برنامه هاي استعماري ، زنده کردن سنت هاي جاهلي مخصوصا پرستش سنت هاي کهنه وپوسیده میباشد .

درارابطه به تاسیس این گونه مراکز " محمد محمود صواف " نویسنده ومحقق مسلمان تحقیقاتي انجام داده ودرکتاب بنام " نقشه هاي استعمار درراه مبارزه بااسلام " ارقام زیررا معلومات میدهند ٤۸۹ مدرسه دیني وابسته به مسیحیت ، ۸۳۹ مدرسه ابتدائي ، ۵۰ انستوت واکادمي وکانون آموزشي ، طبي ودرماني ، ۹۳ جمعیت پرستاري ، ۲۶۵ دارالایتا ، ۱۲۰ جذامخانه ، ۱۱۵ آموزشگاه براي نابینایان ، ۱۱۳ شفاخانه براي معتادا به موادمخدره ۸۵ پناهگاه براي بیوه زنان این ارقام مربوط به کشورهاي اسلامي درحدود دودهه قبل میباشد .

تعداد فرزندان مسلمان که دراین گونه مدارس ومراکز زیردست مبلغین مسیحي قراردارند درحدود هفت ملیون نفرمیباشد .

کسانیکه دراین مراکز زیرنظراستعمارگران تدریس مي شوند دانسته یاندانسته بسوي استعمارفکري سوق داده مي شوند .

ازطرف دیگرنفوذ درفرهنگ ملتها خودیکي ازمهمترین راه وصول به اهداف سیاسي واقتصادي ... استعماراست .

البته میتوان گفت که یکي از اهداف تشکیل موسسات متعددغربي که امروز دوارتباط به مردم مصیبت زده ومسلمان افغانستان به عناوین گوناگون درپشاور تاسیس شده ادامه همین سیاست شیطاني واستعماري صلیبي هاي غربي است .

این کمال سادګي خواهد بوداګرګمان کنیم که اهداف تمامي این مراکز خیرخواهانه وبشردوستانه است .

البته درارابطه بابعضي ازاین موسسات میتوان یك سلسله استثناآت قائل شد، اما درمجموع این تصورکه اهداف خیرخواهانه وبشردوستانه داشته باشند بل تصورعجولانه وغیرمنطقي خواهد بود .

استکبار جهاني ازطریق این گونه مراکز مي خواهد درابعاد گوناگون جامعه اسلامي مارتکه کند تا کیان دیني، فرهنگي ، مذهبي وتاریخي جامعه اسلامي مارا ویران نماید .

روسهاي متجاوزبوسیله توپ، تانگ وناپالم وکشتار نتوانست که مارکسیزم رابرملت مسلمان ماتحمیل کند ودین مقدس اسلام رادرافغانستان سرکوب نماید . ملت مسلمان ماباوجود انجماد فرهنگي وعلمي توانستند ازاصالت دیني وفرهنگي خوددربرابر این یورش وحشیانه ي فرهنگي ، نظامي وسیاسي نظام مادي کمونیزم دفاع کنند ودشمن را باشرمساري ورسوایي ازکشوراسلامي شان بیرون سازند . امااستعمار جهان خوارغرب درجهت سرکوبي ونابودي دین وفرهنگ ملت مسلمان مادرلباس دوستي وهمکاریهاي بشردوستانه از طریق مراکز جاسوسي خودوارد معرکه شده است .

تراکم این گونه مراکز استعمارجتي موجودیت بعضي ازموسسات واقعا خیرخواهانه وبشردوستانه اي را که بمنظور خدمت به مردم مصیبت زده اي ماتشکیل شده تحت شعاع خودگرفته است .

برمیگردیم به اصل مطلب .

فرهنگ ملتهامعمولا به دوگونه است :

الف : فرهنگي که بامنافع استعماروئفوذ بیگانه سازگار بوده وهیچگونه تضاد وتصادم باآن ندارد .

ب : فرهنگ ناسازگاربامنافع بیگانه ومتخاصم بااستعمار، استعماربافرهنگي که سازگاربامنافع اواست وتصادمي بامنافع اوندارد هیچگونه مبارزه وضدیت ندارد بلکه در صدد تقویت ، ترویج وورونق آن میباشد . ولي هنگامي که ازناحیه فرهنك ملتي احساس خطرکند به هرقیمتي که باشد درآن نفوذ کرده ، درقدم اول آن قسمت ازآن راکه پویا وسازنده است ازکارمي اندازند پس بطورکلي آنرا ازمحتوي خالي کرده ومسخ مي نماید .

به همین منظورسازمانهاي عریض وطویل وپرآوازه جهاني باکشورهایي ازماوراء بحاربه حمایت فرهنگ ملتي برمي خیزند ویاپسا گروهاي باستان شناس شرق شناس ... بدانسو گسیل مي دارند . بیشتربخاطرحمایت ازفرهنگ قسم اول که سازگار بااستعماروددرمسیرحفظ منافع آنان است ویانقشي دربرابر آن ندارد ، میباشد .

ولي درراه مبارزه بافرهنگ گروه دوم یعني فرهنگ ناسازگاربامنافع استعمارمتخاصم باطرح هاي آنان ازهیچ نوع تلاشي درجهت سرکوبي آن دریغي ندارد .

پس ازمطالب فوق چنین نتیجه مي گیریم که هدف استعمار از تاسیس مراکز تعلیمي وتربیتي اصولا به مفهوم واقعي آموزش وتعلیم وتربیت نیست .

